# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com    afgazad@gmail.com

| Ideological | مسایل ایدیولوژیک |
|---|---|



درویش وردک

۱۲ جون ۲۰۱۶

## څلورڅلويښتم مجلس(داچې دنيا دمؤمن زندان ده)

دسی شنبی په ماښام د ۵۴۵هجری قمری کال درجب دمیاشتی په دیارلسمه، شیخ عبدالقادرگیلانی(رضی الله تعالی عنه) په مدرسه کی داسی وفرمایل:مؤمن په دنیا کی غریب دی اوزاهد په آخرت کی، اوعارف هرڅه چی غیردخدای دذات څخه دی، بیگانه دی. مؤمن په دنیا کی زندانی دی، هرڅه که رزق اوروزی یی فریمانه وی، اوزن اوفرزند یی په ځای اوجایدادسره خوښ وی، ولی هغه دباطن په زندان کی دی. ښادی یی په څیره کی ده اوغم یی په زړه کی، دنیا یی پیژندلی اوهغی ته یی یو طلاق ورکړی، یو طلاق ځکه چی دژوندانه له بدلونونه یی لرغوندی ویره درلوده، ولی کله چی دآخرت دروازه یی پرمخ پرانیستل شوه، اودهغی انواریی وکتل، دوهم طلاق هم جاری کوی، اوکله چی یی لاس دآخرت په گریوان کړل، دریم طلاق یی هم جاری کړ، اوپه توله سره دآخرت ترڅنگ ودرید، اوکله چی دحق انوارپری وغوړیدل، آخرت ته یی هم طلاق ورکړ، دنیا ورته وویل: ولی دی ماته طلاق راکړ؟ ځواب یی ورکړ، ځکه له ما می ښکلی ولیده، آخرت تری وپوښتل ماته دی ولی طلاق راکړ؟ هغی ته یی وویل چی ته ښکلی یی، ولی ته هغه نه یی چی زه وریسی گرځم، نوځکه درته طلاق درنکړم، چی دحق په پیژندنه نایل شوی یم. په دی حالت کی مؤمن سړی نورپرته له خدایه له غیروڅخه آزاد دی، له دنیا اوآخرته بیگانه دی، اودحق دجمال محو دی. پدی حال کی دنیا دده خواته راځی، اوسراسریی په خدمت کی قرارنیسی، ولی پرته له سینکاره اوزینته چی معمولا خپل غوښتونکی پری غولوی، بلکه ځان ورته دزړی بوډی اوپاکنیزی غوندی جوړی، چی گوندی دپاملرنی اوعنایت وړیی ونه گرځی.

خدای ته مخ راواړوه، په ټول وجودسره ځان هغی ته وسپاره، سبا دپرون په شان پریږده، ډیرسباگان به راشی، اوته به شتون ونلری. ای بډایه، په خپل ثروت اودارائی مه بوختت کیږه، کیدای شی سبا راشی اوته به له فقراوناچاری سره مخ یی. ددنیا په کوم شی تکیه مه کوه، بلکه اتکاء دی باید پرخدای وی، ځکه دمؤمن زړه یوازی دخدای په یاد سره هوساکیږی. پیغمبراکرم(صلی الله علیه وسلم) فرمایلی: (لَا رَاحَةَ الْمؤمن مِنْ دُونِ لِقاءِرَبِّه)-« مؤمن پرته دخدای له دیداره په بل څه نه آرامه کیږی».

هرکله که دی دځان اوخلکو ترمنځ اړیکه ورانه کړه، اوله خالق سره دی رابطه ټینګه کړه، خدای به دی امورات اداره کړی. هغه څه چی درته تاکی، ناخوشاینده یی مه بوله، هرڅوک چی دخدای پرغوښتنه سره صابره وی، دهغی له الطافو څخه به ډیرعجایب وگوری.

هرچاچی په فقرصبروکړ، توانګری ته به ورسیږی، ډیری کسان چی دنبوت مقام ته رسیدلی، شپانه و، ډیری اولیاءالله دغریبانو اوبردګانو له منځه راوتلی، ځکه که بنده ذلت اوخواری دخدای په غوښتنه اواراده سره ومنل، عزیز به شی. هرڅوک چی دخدای پروړاندی متواضع اوسرټیټی وی، عالی مقام ته به ورسیږی. خدای دی چی عزیزکوی، اوذلیل کوی، لوړوی اوخواروی اوتوفیق ورکوی.

ای دخلکو ډلی چی په خپلو اعمالو مغروره شوی یاست، کوم شی تاسو دی ته هڅولی یاست؟ که دخدای توفیق نه وای دلمانځه په کولو اوروژه نیولو به ناتوانه وی؟ کله موکولای شوای چی دستونزو پروړاندی صابره اوسی؟تاسو باید دشکرپه مقام کی اوسی،نه دځان غوښتنی په ځای کی. مع الاسف-ډیری خلک په خپلو عباداتواوکړومغروره دی اوځان ستاینه کوی.

هغه چی دنورو دحمداوثنا ویلو طالب دی، ددنیا اودهغی دارباباونوپه هیله دی، ځکه یوازی دنفس له حاله خبرلری، اوټولی هیلی اوآرمانونه یی دنیاده. دنیا دنفس محبوبه اوآخرت دزړه محبوب دی، اوحق عزّوجلّ دباطن اواسرارو محبوب دی.

پاک خدای داوامرو داجراء حکم ستاسوپه زړوکی القاء کوی، ځکه ټولو مقاماتواومراتبوته درسیدو وسیله دالهی احکامو ترسره کول دی، اوهرڅوک چی غیرله دی بله ادعاکوی کاذب دی، اوهرکارچی شریعت پری ګواهی ونکړی زندقه اوکفردی.

په دوو وزرو(کتاب اوسنت) سره دخدای لوری ته پروازوکړه، په دی دوو کلی اصولوپوری ځان وتړه، اولاس دی درسول اکرم(صلی الله علیه وسلم) په لاس کی کښیږده، اوهغه خپل معلم اوراهنما وګرځوه، ترڅو تا ددین په زینت سره آراسته کړی. هغه ریښتینی مربی دی، هغه دانا اونقاد صراف دی چی نیک اوبد سره بیلوی، دصالحینو امیر او فرمانروادی، داحوالاتواومقاماتو ویشونکی دی، ځکه حق عزّوجلّ دغه مقام ورته تفویض فرمایلی، هغه یی دټولو امیر ګرځولی، هرکله که دامیرلخوا لښکریانو ته کوم خلعت ورکړل شی، دهغی ټوټی دبولندوی(قوماندان) په لاسونو ویشل کیږی ( نوځکه ایزدی خلعتونه دګران رسول(صلی الله علیه وسلم) په لاسونو ویشل کیږی؟).

توحیدعبادت دی اوشرک عادت. په عبادت لاس پوری کړه اوله شرکه لیری شه. هرکله که عادت دی بدل کړ ستا په وضعیت کی به هم بدلون راشی، تبارک وتعالی خدای فرمایلی: (إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوۡمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُواْ مَا بِأَنفُسِهِمۡ). دنفس اوخلق حب له زړه وباسه، اودهغوی دخالق حب په زړه کی ځای کړه، دورځی روژه اودشپی لمونځ هغه وخت ګټوردی چی دزړه له طهارت اودباطن له صفا سره یوځای وی.

یوه له بزرګانو څخه ویلی: (روژه اودشپی لمونځ ددسترخوان په سر دسرکی اوسبزی په معنی دی، اصلی خواړه صدق اوراستی ده). اول باید اصل طعام په نظرکی ونیول شی، وروسته رنګارنګ شیان. اصلی طعام صدق دی، اوله دنیا څخه لاس وینځل، اودحق لقاء ته رسیدل، اوخلعت اوفرمانروائی اونیابت او هرڅه ترلاسه کول دی.

هرکله که بنده په حقیقت سره حق ته تسلیم شو، دقرب په مقام کی به تمکن ومومی، دځمکی داقطارو سلطنت به ورته تفویض شی، اودخدای لورته به دخلکو دعوت ورته مسلم شی، دخلکو دآزاراواذیت پروړاندی به صابره وی، ترڅو وکولای شی دناحق په ابطال اودحق لپاره قیام وکړی. دربانی علم له دریابه به دصالحو بندګانو پرزړونودحکمت انهار جاری شی، ترڅو دمغریضینو په زړونو هم وګرځی اوددوی دهدایت سبب وګرځی.

(ای دخدای بنده) حرام مأکول زړه وژنی، اوحلال مأکول هغه ژوندی کوی. داسی ګوله شته چی زړه نورانی کوی، اوداسی ګوله شته چی زړه تیاره کوی. یوه ګوله تا په دنیا سرګرموی، اویوه ګوله دی په آخرت پوری تړی، یوه ګوله تا له دنیا اوآخرته زاهد کوی، اویوه ګوله تا ددنیا اوآخرت پیداکوونکی ته راغب کوی. حرام خواړه به دی په دنیا مشغول

کوی اوګناهونه به دی په نظر کم ارزښته جلوه کوی، اومباح خواړه به دی په آخرت مشغولوی، اوپه عباداتواوطاعاتوته به دی مایل کړی. اوحلال خواړه به دی دحق قرب ته هدایت کړی. ددی خواړو پیژندنه پرته دخدای له پیژندنی ممکنه نده، اودخدای پیژندګلوی په پاک زړه سره ممکنه ده، دانباید ددفاترو په کتابونو کی ولټول شی، داامرخپله دخدای دلطف په اثر ممکن دی، نه دخلکو په وسیله.دخدای معرفت دهغی په احکامو به خالصانه عمل، صدق اوتوحید، دده په ذات اطمینان اوثقت، اوله زړه څخه پرخلکو تکیه کولو په ایستلو، میسرکیږی.

ته څرنګه کولای شی دحق پرپیژندنه لاس ومومی، پداسی حال کی چی پرته له خورد اوخوراکه، لباس اونکاح دبل څه په باره کی فکرنکوی؟ اوتوجه هم نکوی چی هغوی دکومی خوانه راځی. آیا درسول اکرم(صلی الله علیه وسلم) فرمایش دنه دی اوریدلی چی فرمایلی دی: (مَنْ لَمْ يُبالِ مِنْ أَيْنَ مَطْعَمُهُ وَمَشْرَبُهُ لَمْ يُبالِ اللهُ مِنْ أَيِّ بابٍ مِنْ أَبْوابِ النَّارِ اَدْخَلَهُ)- «هرچاچی توجه ونکړه چی خوراک اوڅښاک اونورنعمتونه چی په لاس کی یی لری له کوم ځایه دی، خدای به هم ونګوری چی ددوزخ له کومی دروازی ورننوزی».

حضرت شیخ عبدالقادره(رضی الله تعالی عنه) بیافرمایلی: ځان ددنیا دمال په ټولولو اودهغی به زخارفو مه سرګرموه، اودنیاته توجه دی له خدایه غافله نکړی. خلق دی پایبنده نکړی، داسی چی له خدایه لیری شی، ته ددوی دعقل اودرک په میزان خبری وکړه، اوله هغوی سره مداراوکړه. پیغمبراکرم(صلی الله علیه وسلم) فرمایلی:( مُداراةُ النَّاسِ صَدَقَةً) -«له خلکو سره مداراکول صدقه ده».

دعزّوجلّ خدای له عطا څخه یی نوروته وبخښه، دځان په نسبت دخدای دکرامت اوبزرګواری څخه یی نورهم بهره مند کړه، له خلکو سره په مهربانی اومحبت رفتاروکړه، ترڅو ستا خُلق وخوی دخدایی خلق اوخوی نښان وګرځی.

شیخ دوه ډوله دی، دحکم شیخ اودعلم شیخ، دعلم شیخ تاپه نیک خوی اوخلق دحق درګاه ته رسوی. دوه دروازی دی چی ناچاره پری ننوزی، یودخلق باب اوبل دخالق باب، ددنیاباب اودآخرت باب، چی هریودبل تابع دی، دخلق باب لومړی اودخالق باب ورپسی ، البته دوهم باب ته به ونه رسیږی مګرچی دلومړی باب څخه تیرنشی. دنیا له زړه وباسه ترڅو آخرت ته ورسیږی.

دحکم دشیخ خدمتګاراوسه، ترڅو تادعلم شیخ ته ورسوی. له خلکو څخه لیری والی وکړه ترڅو دخالق معرفت ته ورسیږی. دادرجات یوپه بل پسی ترلاسه کیږی. البته باید توجه وکړی چی دوی یودبل ضد دی، یودبل سره نه جمع کیږی، پس ددوی دیوځای کیدو منتظرمه اوسه. فرشته هغه کورته چی عکس پکی وی نه داخلیږی، پس څرنګه به خدای پاک هغه زړه ته چی ددنیا بت اودشهواتو عکس پکی وی جلوه وکړی؟ هرڅه چی غیردخدایه دی په حکم کی تندیس اوبت دی، دابتان مات کړه، اودزړه کورله هغوی پاک کړه، ترڅو دکوردخاوند حضورپه هغی کی ووینی اوله عجایبویی داسی شیان وګوری، چی مخکی مو هیڅکله نه ولیدلی.

لویه خدایه ، په هغه څه چی ستارضاده مونږبریالی کړی.آمین!

و«آتنا فی الدنیا حسنه وفی الاخرة حسنه وقناعذاب النار»آمین.

---

۱- این عبارت که به نام حدیث نبوی مشهوشده، چنانچه صحیح باشد منظورآن عکس وتمثالهائیست که برای تقدیس وپرستش درخانه آویزان باشد.